
لنډه کیسه
Ketabton.com
ملک
لیکوال: واجد منګل

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ملک

**لیکوال: واجد « منګل »**

**ترتیب: افغان کتابتون**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پيل

د کړکۍ له شيشې څخه د لمر وړانګو د ښځې ژېړ مخ لا ژېړ کړی وو، په بدن کې يې د وينې څرک نه مالوميده، سيروم ور ته راځوړند وو، هرو څو ثانيو کې يې څاڅکي څاڅکي وينه اخيسته.

ور سره ناست دولس کلن ماشوم، د ښځې اوږې ته خپل لاس ور وغځاوه، د ښځې ګوتې وخوريدې، ماشوم وژړل، له کوچنيو سترګو يې غټې اوښکې تويې شوې. په غريو کې يې له خولې د «ادې» لفظ را ووت.

سړی ور پورته شو، ماشوم يې له مټه ونيو، شاته يې کش کړ.

ماشوم ژړل.

سړی وويل:

- پرېږده چې مرداره شي.

د ښځې له سترګو خړه پرده اوچته شوه، ويې غړولې، سيکه نه وه ور پاتې، بېرته يې بندې کړې...

سړي سوړ اسويلی وکړ، په سپينه ږيره يې لاس تېر کړ، له مېزه يې سپينه خولی ور واخيسته او پاڅېد.

د کوټې ور وټکېد، کس را ننوت، ډاکټر وو، سپينه چپنه يې په تن وه.

سړی بېرته په خپل ځای کې کېناست.

ډاکټر د ښځې مخې ته څو دقيقې ولاړ وو، د ښځې نفس او فشار يې وليد. ښځې د يوې مياشتې راهسې د کم خـــوني ناروغی لرله. دا ځل روغـــتون ته د هغې راتګ يواځې کم

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوني نه وه، د سر ضربه هم ورسره ملګرې وه، تندی يې پرې (ځيرې) وو.

وروسته ډاکټر سرې ته مخ ور تاو کړ، په خوشحالۍ يې وويل:

- ملک صېب، مېرمن مو په ښه کېدو ده. شکر چې زموږ د همکار د وينې ګروپ ور سره سمون اوخوړ، کني اوس به ژوندۍ نه وه پاتې.

سړي ترخه موسکا وکړه، د منني لپاره يې ورته لاسونه په سينه کېښودل:

- ښه شوه چې وه ژغورل شوه. او له تاسې هم ډېره مننه!

ماشوم سړي ته برګ برګ کتل.

وروسته سړي وتوخل، رنګ يې سور شو، له ځايه پاڅېد، د باندې ووت.

د ماشوم په مخ د اوښکو چاپونه وو، سپين غومبري يې د اوښکو له امله خيرن ښکاريدل.

ماشوم سلګۍ کولې.

ډاکټر ور وکتل:

- مه ژاړه زويه، مور دې ښه کيږي.

ماشوم پوزه کش کړه، له اوښکو ډکې سترګې يې له مور سره نيږدې ولاړ ډاکټر ته ونيولې، په ژړا کې يې وويل:

- ملک چا ته وايي؟

- هغه کس ته، چې د خلکو ستونزې حل کوي.

- نو زما پلار، زما د مور ستونزه ولې نه شي حل کولی؟، هره ورځ يې زما مور له ويښتو را نيولې وي او وهي يې.

ډاکټر حيران ورته وکتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماشوم د ژبې د بنديدو له امله د «پلوشې» نوم سم نه شو اخيستلی، په سختۍ يې وويل:

- که نن د پل، پلوسې دوی بابو نه وای خبره شوې، پلار به مې ادې مړه کړې وای.

ډاکټر په لاس کې نيولې پيچکاری د کټ په ژی (څوکه) کېښوده، وروسته ماشوم ته ور نيږدې شو، په مخ يې لاسونه ور تېر کړل، اوښکې يې ور پاکې کړې، ويې ويل:

- ملک صيب ولې خپله ښځه وهي؟

ماشوم زګيروی وکړ:

- وايي، بله ښځه کوم خو مور مې...

له دروازې سره ولاړ سړي په تېزه ستونی تازه کړ، ماشوم ژر ور وکتل، سړي (د ماشوم پلار) وو، ماشوم چوپ کېناست.

ډاکټر د ماشوم له څنګه ليرې ودرېد، سړي ته يې په ځير ځير وکتل. يوه شيبه يې سترګې پکې نيولې وې، وروسته يې له څنګه تېر او د باندې ووت.

# پای

(c) ketabton.com: The Digital Library



**یادونه!**

**خپل نظرونه مو په لاندې ادرسونو را سره شریک کړئ.**

**فیسبوک: Wajid Mangal**

**واټساپ: +4368864664143**

**ایمیل: Wajidmangal2003@gmail.com**

ډېره مننه له افتخارالله افتخار ښخه!

د کره کتنې په پار مې کیسه ور ولیږله، لومړی کس وو چې راته یې وویل؛ کیسه دې ډېره ښه لیکلې.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**